# شتمني SHTAMANI

اوونیزه

تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

د رمضان المعظم ۲۳ -۱۴٤٦ل س | د وري ۳ -۱۴۰۴ل ل | د مارچ۲۳-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۳٦ ګڼه | ٤ مخیزه | ۱


د حدیث شریف ژباړه

**نبي علیه السلام فرمایي:** بېشکه په تاسو کي ماته تر ټولو زیات محبوب او د قیامت په ورځ ماته ترټولو نږدې هغه خلک دي، چي په تاسو کي د ښو اخلاقو څښتنان وي. له نبي علیه الصلاة والسلام څخه پوښتنه وسوه، چي کوم عمل افضل دئ؟ وئې ویل: ښه عادت بیا پوښتنه وسوه، چي جنت ته د داخلېدو ترټولو لوی سبب کوم عمل دئ؟ وئې ویل: د الله تعالی خوف او ښه عادت.

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سرمقاله

### د شتمني اوونیزي مزل

رسنی د اجتماعي اړیکو او عامه پوهاوي په توګه په ټولنو کي ځانګړی ځای لري، او د عامه اذهانو په روښانولو، د بېلابېلو پوهنو په انتقالولو، د وخت له حالاتو، پېښو، بدلونونو، پرمختګونو څخه د خبرېدلو خاصي وسیلې کڼل کېږي. رسنی دوې بڼې لري یو ئې چاپي بڼه ده، چي د چاپ پیدایښت سره سم ئې په بشري ژوند کي ستر بدلون او پرمختګ رامنځته کړ او انسان ئې د نني تمدن پړاو ته راوست؛ لکه: کتابونه، مجلې، اوونیزي، ورځپاڼي او نور... بله د رسنیو برېښنایي بڼه ده؛ لکه: ګوګل، فیسبوک، ټویټر، ټلیګرام، انسټاګرام او نوري بېلابېلي برېښنایي پاڼي، چي له کبله ئې نړی د یوه کلي بڼه غوره کړې ده.

په افغانستان کي هم چاپي رسنی په پرتله یېز ډول اوږده مخینه لري، چي لومړی ځل د امیر شیرعلي خان د واکنی په دوره کي مطبوعي رامنځته سوې او د شمس النهار په مطبوعه کي په لومړي ځل د شمس النهار په نامه لومړنی جریده له چاپه راووته، بیا د امیر حبیب الله خان په دوره کي سراج الاخبار د محمود طرزي په نوښت په دوامداره توګه خپل فعالیت پیل کړ، چي بېخي د یوه ښوونځي حیثیت ئې درلود، هغه وخت په سراج الاخبار کي د ملت پالني، د هغه زمان د پوهنو او علومو او په ځانګړې توګه د آزادۍ غوښتني مطالب خپرېدل، چي غوښتل ئې ملت د ازادۍ اخیستني له روحیې سره اشنا کړي، هغه وخت افغانستان د انګریزي استعمار په ولکه کي وو، په سراج الاخبار کي ئې د دربار د هیلو خلاف د خپلواکۍ اعلان کړی وو او د ((حی علی الفلاح)) په نامه ئې موضوعات خپرول، چي د وخت د حکومت له خوا ئې خپرونه مصادره او نغدي جرمه هم ورکول سوه.

تر دې وروسته دې ورته نوري بېلابېلي ورځپاڼي او چاپیزي خپروني رامنځته سوې او ځیني لا اوس هم په هماغه نامه؛ لکه: هیواد، انیس، کابل ټایمز او نور... خپل نشراتي فعالیت لري. د دې ترڅنګ په اوسني وخت کي په نویو نومونو بېلابېلي انلاین او چاپیزي خپروني فعالیت پیل کړې دی، له دغو خپرونو څخه یو هم د مالیې وزارت د انلاین خپرونو ترڅنګ چاپیزي خپروني دي. په چاپي خپرونو کي شتمني مجله او شتمني اوونیزه لري، چي د مالیې وزارت لاسته راوړني، فعالیتونه اقتصادي علمي معلومات او تحلیلونه، خبرونه او نور اړوند موضوعات خپروي. لکه څنګه چي دلته زموږ د بحث اصل موضوع هم شتمني اوونیزه ده؛ نو غواړو، چي د شتمني اوونیزي پر شالید بحث وکړو او کوم نوي تخنیکي اصلاحات، چي په دې اوونیزه کي راوړو دلته ئې ذکر کړو: شتمني اوونیزه د لومړي ځل له پاره په (۱۳۹۴هـ.ل) کال تأسیس سوه، چي نشرات ئې یوازي په انلاین بڼه ول، تر (۱۴۰۰هـ.ل) کال پوري همداسي په انلاین بڼه خپره سوه، د دې تر څنګ په (۱۴۰۰هـ.ل) کال کي د شتمني اوونیزي د مسئول شخص له خوا د شتمني اوونیزي په تخنیکي جوړښت کي تغییر راوستل سو او د خپلي پرېکړي پر اساس ئې د دې اوونیزي (ګڼه/شماره) له سره، د لومړی ګڼي څخه پیل کړه او تر (۸) ګڼو پوري دا هم به انلاین شکل خپرې سوې.

د افغانستان اسلامي امارت د بیا ځلي واکمنېدو سره سم، چي کله د مالیې وزارت ته نوی سرپرست وزیر ور وپېژندل سو؛ نو د یوې اونۍ په جریان کي په علني ډول د اړیکو او عامه پوهاوي د نوي رئیس/ د وزارت ویاند په نوښت (۹مه) ګڼه د لومړي ځل له پاره چاپ سوه او تر اوسه په داومداره توګه تر (۱۳٦مي) ګڼې پوري رسېدلي او په اونۍ کي یو ځل د (٦۰۰ نسخو) په تعداد په ښه صحافت او معیاري بڼه چاپېږي، دا چي د دې اوونیزي چاپ په (۱۴۰۰هـ.ل) کال کي پیل سوی؛ نو موږ د مجلې کال هم د چاپ د کال څخه په نظر کي نیولی دئ او اوس، چي (۱۴۰۴هـ.ل) کال نوی پیل سو، دا ئې پنځم کال شروع سو؛ اما داچي تأسیس ئې په (۱۳۹۴هـ.ل) کال کي سوی وو؛ نو هماغه د تأسیس کال هم په همدې نوې (۱۳٦مه) ګڼه کي ځای پر ځای سو.

درنښت

اداره

## د ګمرکونو او عوایدو معینیت ټاکل سوی کلني عوایدي هدف ترلاسه سوی



د مالیې ورزارت د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد معینیت د غونډو په تالار کي و سوه. په دغه ناسته کي د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترسره سوي چاري په هراړخیز ډول وارزول سوې او د یادو ریاستونو ترمنځ په چارو کي د ښې همغږۍ او په (۱۴۰۳) هـ.ل کال کي ټاکل سوي عوایدي هدف ته کتنه وسوه، چي له مخي ئې یاد معینیت خپل کلنی عوایدي هدف په بریالي ډول ترلاسه کړی دئ او د اړوندو ریاستونو ترمنځ په چارو کي همغږۍ لا پیاوړې سوې ده.

د ګمرکونو او عوایدو معین د اړوندو مسئولینو د اخلاصمندانه هڅو له کبله یاد رامنځته سوي پرمختګونه وستایل او د چارو د لا ښه پرمختګ په موخه ئې له مسئولینو سره لازمي سپارښتني شریکي کړې. همداراز د تېري ناستي د پرېکړو په اړه بحث او خبري وسوې او ټاکل سوېو کمېټو د خپلو اجراآتو راپور وړاندي کړ، چي د غونډې ګډونوالو د یادو راپورونو په اړه هر اړخیز بحث وکړ او د اړوندو چارو د لا ښه والي په موخه لازمي پرېکړې وسوې.

## د ابو نصر فراهي په ګمرک کي د څه باندي (۷۱) میلیونه افغانیو په ارزښت د ځلور بابه هنګرونو د جوړېدو پروژه پرانیستل سوه





د ګمرکونو لوی ریاست د فراه ولایت د ابو نصر فراهي په ګمرک کي د (۷۱،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت د ځلور بابه هنګرونو د جوړولو پروژې پرانیستنه وکړه. په دې پرانیستغونډه کي د ګمرکونو لوی ریاست د حمایت او پراختیا رئیس مسلم خاکسار، د ابو نصرفراهي ګمرک رئیس مولوي خلیل الرحمن مصطفی او د یادې پروژې تخنیکي کارکوونکو ګډون کړی وو. د یادې پروژې بودیجه د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او چاري به ئې تر راتلونکو (۱۰) میاشتو پوري د یوه افغاني شرکت له لوري بشپړې سي.

د یادولو ده، چي هر یو هنګر به په یوه وخت کي د (۵۰۰۰) میټریک ټنه توکو د ځایېدو ظرفیت ولري، چي په جوړېدو سره به ئې سوداګرو ته د سوداګریزو توکو د خوندي ساتلو په برخه کي ګڼې اسانتیاوي رامنځته سي.

## د اسلامي امارت زېربنایي پروژې به په بشپړې همغږۍ پلي کېږي



د مالیې وزارت د پالیسۍ معین انجنیر سلطان محمد زبیر په مشرۍ، د ملي زېربنایي پروژو د جوړ سوي میکانیزم د غوره تطبیق په موخه د (۲۷) وزارتونو، خپلواکو ادارو او امارتي شرکتونو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه. په دغه ناسته کي د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء درانه مقام له لوري د زېربنایي پروژو د همغږۍ او شریکولو پر تائید سوي میکانیزم هراړخیز بحثونه وسول او د یاد میکانیزم د غوره تطبیق لاري چاري رابرسېره سوې. په دې ناسته کي له پلان سره سم، په منظم او دقیق ډول د زېربنایي پروژو پلي کول ډېر اړین وبلل سول؛ تر څو د زېربناوو له بیا ړنګولو مخنیوی وسي او د دغو پروژو د پلي کولو پرمهال د لګښتونو سپما ته هم بایډ ځانګړې پاملرنه وسي. همداراز د راتلونکو پلانونو او د احتمالي ستونزو پر مخنیوي هم بحثونه وسول. د یو شمېر ادارو له لوري له میکانیزم سره سم د ځینو پروژو د پلي کولو ستاینه وسوه او اړوندي اداري لا پیاوړې همغږۍ ته و هڅولي سوې. په پای کي د مالیې وزارت له لوري د ټولو اړوندو زېربنایي پروژو د ښه پلي کولو او بیارغوني په برخه کي اړتیا ته په کتو د اصولي همکاریو بشپړ ډاډ ورکړل سو.



د خوست، فراه او آقینې په ګمرکونو کي د اوبو د تصفیې سیستمونه فعال سول

م ۲



د روان کال د سلواغې په میاشت کي د هیواد ګمرکي چارو (۲۴) سلنه پرمختګ کړی دئ

م ۲




د ابو نصر فراهي په ګمرک کي په لومړي ځل امنیتي کېمرې نصب او له مرکز سره ونښلول سوې

م ۲




تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

م ۲



هوش مصنوعی و نقش آن در آینده کار و تجارت

م ۳



اُزبکستان په مزار شریف کي له افغانستان سره د همکارۍ د زیاتولو په خاطر سوداګریز مرکز پرانیست

م ٤

## د روان کال د سلواغې په مياشت کې د هيواد گمرکي چارو (۲۴) سلنه پرمختگ کړی دئ



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال د سلواغې په مياشت کې په گمرکونو کې د ترسره سويو چارو د تخنيکي ارزوني ناسته پر ليکه او حضوري بڼه وسوه. په دې ناسته کې د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال د سلواغې په مياشت کې په گمرکونو کې د تر سره سويو فعاليتونو توليز راپور وړاندي سو. په ياده موده کې د عوايدو د راټولولو، د هيواد په گمرکونو کې د ترسره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت او د سوداگريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندي سول، چي له مخي ئې د پروسږکال کال د همدې مودې په پرتله، د گمرکونو چاري (۲۴،۲) سلنه مثبتي وښودل سوې. د وړاندي سوي راپور په تړاو هر اړخيز تخنيکي بحثونه وسول او د چارو د لا پرمختگ په موخه د ولايتي گمرکونو د مسئولينو ستونزي او وړانديزونه هم واورېدل سول، چي د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو او ورسره اړيني سپارښتني هم شريکي سوې.

## د دعوت او ارشار رياست مسئولينو يو شمېر ولايتونو ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئيس مولوي عبدالهادي سيف الخالد په مشرۍ مل پلاوي، د خپلو رسمي ولايتي سفرونو په دوام، دا ځل؛ ننگرهار، کونړ او لغمان ولايتونو ته سفر وکړ. د دغه سفر په لړ کي ښاغلي سيف الخالد او مل پلاوي ئې د يادو ولايتونو له واليانو سره د ليدني سربېره د گمرک او مستوفيتونو له مسئولينو او د ننگرهار ولايت د امربالمعروف له رئيس سره هم په جلا توگه ليده کاته کړي دي. د دغو ليدنو موخه د ماليې وزارت اړوندو کارکوونکو ته په غوره ډول د سپارل سويو مسئوليتونو د ترسره کولو، پر ټاکلي وخت دندو ته د حاضرېدلو، په چارو کي د پوره اخلاص او له مراجعينو سره د نېک چلند کولو په اړه لازمي سپارښتني شريکول او په ټوله کي د اميرالمؤمنين (حفظه الله) د فرمانونو پلي کول ول. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست هڅه کړې، چي د دغه وزارت کارکوونکي په اسلامي روحيه وروزي او له مراجعينو سره ئې ښو کړنو ته وهڅوي.

## د خوست، فراه او آقينې په گمرکونو کي د اوبو د تصفيې سيستمونه فعال سول



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د (۳،۱) ميليون افغانيو په ارزښت د خوست، فراه او آقينې گمرگونو د کارکوونکو او مراجعينو له پاره د ښاك پاکو اوبو ته د لاسرسي په موخه د اوبو د تصفيې سيستمونه فعال کړل. د اوبو د تصفيې ياد سيستمونه په پوره معياري ډول جوړ سوي دي، چي په يوه ساعت کي (۱۰۰۰) ليتره اوبه تصفيه کوي. همداشان د گمرکونو لوی رياست د کندهار ولايت د سپين بولدك په گمرك کي هم د (۱،۴) ميليونه افغانيو په ارزښت د يوې حلقې برمه يې څاه د کيندلو چاري پيل کړي دي، چي په دې پروژه کي د څاه د کيندلو تر څنگ له څاه څخه د اوبو ايستلو، ذخيره کولو او نور اړين تجهيزات هم شامل دي، چي چاري به ئې تر يوې مياشتي پوري بشپړې سي. د يادولو ده، چي له دې وړاندي په يادو گمرکونو کي د کارکوونکو او مراجعينو له پاره د ښاك پاکو اوبو زمينه نه وه برابره، چي کارکوونکي او مراجعين ئې له ستونزو سره مخ کړي ول.

## د ابو نصر فراهي په گمرک کي په لومړي ځل امنيتي کېمرې نصب او له مرکز سره ونښلول سوې

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست له لوري د فراه ولايت د ابو نصر فراهي په گمرک کي په لومړي ځل (۳۲) دانې امنيتي کېمرې نصب او له مرکز سره ونښلول سوې. يادې امنيتي کېمرې، چي (۲) ميليونه افغانۍ لگښت پرې راغلی د گمرکونو لوی رياست د تخنيکي کارکوونکو له لوري نصب او فعاله سوې، چي د امنيتي مسائلو ترڅنگ د گمرکي سر غړونو او د پېښو د مخنيوي په برخو کي به هم ترې گټه واخيستله سي. يادي کېمرې د فراه ولايت د ابو نصر فراهي گمرک په بېلابېلو برخو کي نصب سوي دي، چي د ياد گمرک ترڅنگ په مرکز کي د گمرکونو لوی رياست د کنټرول روم څانگي له لوري ئې هم څارنه او کنټرول کېږي. د يادولو ده، چي د ماليې وزارت له لوري د نيمروز، ننگرهار، آقينې، هرات او کندهار گمرکونه هم په امنيتي کېمرو پوښل سوي او له مرکز سره نښلول سوي دي، چي د روڼتيا او فساد د مخنيوي په موخه په دوامداره توگه د اړوندو گمرکونو گمرکي چاري څارل کېږي.



## د گمرکونو لوی رياست په اداري ناسته کي پر مهمو موضوعاتو خبري وسوې

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د روان (۱۴۰۳) هـ.ل کال (۲۲) مه اداري ناسته د گمرکونو لوی رئيس مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د ياد رياست په مقام کي وسوه. په دې ناسته کي د گمرکونو لوی رياست تخنيکي او عملياتي مرستيالانو، رئيسانو او يو شمېر آمرينو گډون کړی وو. له اجنډا سره سم په دې ناسته کي د صادراتي، وارداتي او ټرانزيټي توکو په گمرکي طي مراحلو کي پر سته ستونزو او حل لارو، د گمرکونو لوی رياست د مرکزي او ولايتي ادارو د ورځنيو چارو پر لا ښه والي، په گمرکونو کي د يو شمېر سوداگريزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او ستونزو پر حلولو او پر يو شمېر نورو موضوعاتو خبري وسوې او په اړه ئې لازمي پريکړې وسوې. همداشان په دې ناسته کي د ولايتي گمرکونو پر استول سويو موضوعاتو هم هر اړخيز بحث وسو او په اړه ئې د چارو د لا ښه والي په موخه لازمي سلا مشورې شريکي سوې.




## تېره اونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي






د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اونۍ د نيمروز، کندهار، فراه، هرات، بلخ او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل له گمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کي (۲۴۷۰۰) کيلو گرامه وچې شيدې، (۲۰۶۳۴) ټنه چاکليټ، (۶۰۲۲) کيلو گرامه انساني او زراعتي درمل، (۳۵۲۶) کيلو گرامه خام نخود، (۲۴۵۶) کيلو گرامه مالگه، (۲۲۲۳) کيلو گرامه بيسکوټ، (۴۶۸۰) کيلو گرامه مالتې، (۳۱۵۰) کيلو گرامه ټوکر، (۸۶۰) کيلو گرامه زراعتي تخم، (۷۶۸) کيلو گرامه نوې البسه، (۵۰۰) کيلو گرامه ملايي، (۴۶۰) کيلو گرامه رُب، (۲۹۵) کيلو گرامه لواشك او (۱۴۰) کيلو گرامه چسپ شامل دي. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي گرځنده څارني کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د ننگرهار په گمرک کي د بار وړونکو موټرونو له پاره تمځای جوړ او گټې اخيستني ته وسپارل سو




د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د (۸،۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د ننگرهار ولايت محصولي گمرك کي د بار وړونکو موټرونو له پاره تمځای جوړ او گټې اخيستني ته وسپاره. د موټرونو ياد تمځای، چي شاوخوا (۲۰) جريبه ساحه کېږي په اساسي ډول جغل اچونه سوې، چي په جوړېدو سره ئې د سوداگريزو توکو د تشرېح په برخه کي د گمرك کارکوونکو او موټرچلوونکو ته گڼې اسانتياوي برابري سوي دي. د يادولو وړ ده، چي د يادي پروژې لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول سوی او چاري ئې هم د يو افغاني شرکت له لوري په (۳) مياشتو کي بشپړي سوې.

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# هوش مصنوعی و نقش آن در آینده کار و تجارت

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل



## مقدمه

هـوش مصنوعـی یکـی از مهم‌تریـن پیشرفت‌هـای تکنالـوژی قـرن بیسـت و یکـم اسـت کـه تأثیـرات گسـترده ای بـر بخش‌هـای مختلـف از جملـه کسـب وکارهـا داشـته اسـت. بـا پیشرفـت تکنالـوژی و توسـعه یادگیـری ماشـینی و الگوریتـم هـای یادگیـری عمیـق، هـوش مصنوعـی بـه ابـزاری حیاتـی بـرای بهبـود بهـره وری، کاهـش هزینـه هـا و تجزیـه و تحلیـل دقیـق داده هـا در مشـاغل تبدیـل شـده اسـت. بـا ایـن حـال، ایـن تکنالـوژی جدیـد دارای مزایـا و معایبـی و یـک بحـث گسـترده اسـت، امـا در ایـن نوشـته بطـور خلاصـه مورد بررسـی قـرار گیـرد. هـدف ایـن مقالـه بررسـی نقـش هـوش مصنوعـی در شـکل دادن بـه آینـده کار، تجـارت پایـدار و پرداختـن بـه چالش‌هـای کلیـدی و ملاحظـات اخلاقـی اسـت. هـوش مصنوعـی (AI) بـا فعـال کـردن اتوماسـیون، افزایـش تصمیم‌گیـری و ارتقـای پایـداری، نیـروی کار و چشـم‌انداز کسـب وکار جهانـی را متحـول می‌کنـد. بـرای جمـع آوری، تحلیـل و تفسـیر داده هـای ثانویـه از روش تحقیـق کیفـی اسـتفاده شـده اسـت. ایـن نوشـته نشـان می‌دهـد کـه چگونـه می‌تـوان زبـان مشـترکی بـا جهانـی تحـت سـلطه تکنالـوژی اطلاعـات ایجـاد کـرد. در دنیـای امـروز مشـکلات زیـادی در ارتبـاط بـا اسـتفاده از هـوش مصنوعـی وجـود دارد کـه عبارتنـد از: اتـکای بیـش از حـد بـه نیـروی انسـانی در کارهای تکـراری و وقـت گیـر، کاهـش بهـره وری در صنایـع سـنتی، دشـواری در تصمیـم گیـری سـریع و مبتنـی بـر داده، ناتوانـی در پیـش بینـی رونـدهـای آینـده بـازار و رفتـار مشـتری، فشـار بـرای توسـعه پایـدار و کاهـش اثـرات زیسـت محیطـی. پیشرفـت هـای سـریع در تکنالـوژی هـای هـوش مصنوعـی منجـر بـه تغییـرات قابـل توجهـی در نحـوه عملکـرد مشـاغل و نحـوه انجـام کار شـده اسـت. هـوش مصنوعـی پتانسـیل بهبـود کارایـی، بهینـه سـازی منابـع و کاهـش اثـرات زیسـت محیطـی را دارد کـه بـه پایـداری بلندمـدت کمـک مـی کنـد. در تمـدن هـای پرشـتاب امـروزی، تصمیـم گیـری نیـاز بـه حجـم زیـادی از داده هـا دارد. کسـب‌وکارها بـرای عملکـرد جوامعـی کـه بیشـتر و بیشـتر بـه داده‌هـا و تکنالوژی‌هـای دیجیتـال وابسـته هسـتند، حیاتـی هسـتند. در نظـر گرفـتن اعضـای اجتماعـی، محیـط اطـراف و اقتصادهایـی کـه همگـی بایـد بـه عنـوان یـک سیسـتم منسـجم کار کننـد، بخشـی از مدیریـت فعالیـت هـای شرکـت اسـت. اجـزای مختلـف اجتماعـی اکوسیسـتم هـای پیچیـده و ناپایـداری را ایجـاد مـی کننـد. ایـن بـه توانایـی کسـب و کارهـا در جمـع آوری و ارزیابـی داده هـا اشـاره دارد. هـوش مصنوعـی نقـش مهمـی در ایـن تحلیـل هـا ایفـا کـرده اسـت. نگرانـی هـا در مـورد مسـائل پایـداری نیـز در حـال افزایـش اسـت. از دیـدگاه تحـول نیـروی کار، هـوش مصنوعـی نقش‌هـای شـغلی و سـاختارهای اسـتخدامی را از طریـق اتوماسـیون، افزایـش و ایجـاد مشـاغل جدیـد تغییـر می‌دهـد:

- اتوماسـیون (روباتیـک مبتنـی بـر هـوش مصنوعـی و الگوریتـم هـای یادگیـری ماشـینی جایگزیـن وظایـف تکـراری و معمـول در صنایعـی ماننـد تولیـد، تدارکـات و خدمـات مشـتری مـی شـوند).
- تقویـت (هـوش مصنوعـی با ارائـه بینـش هـای مبتنـی بـر داده، بهبـود بهـره وری در صنایـع مبتنـی بـر دانـش ماننـد مراقبـت هـای بهداشـتی، مالـی و توانایـی هـای انسـانی را افزایـش مـی دهـد).
- ایجـاد کار (هـوش مصنوعـی بـه نقـش هـای جدیـدی از جملـه کارشناسـان اخـلاق هـوش مصنوعـی، دانشـمندان داده و متخصصـان امنیـت سـایبری نیـاز دارد).

هـوش مصنوعـی همچنیـن شـیوه هـای تجارتـی پایـدار را بهبـود مـی بخشـد. شـیوه‌های تجارتـی پایـدار از هـوش مصنوعـی بـرای کاهـش ضایعـات، بهینه‌سـازی اسـتفاده از منابـع و افزایـش تصمیم‌گیـری اسـتفاده می‌کننـد.

- بهـره وری انـرژی (هـوش مصنوعـی مصـرف انـرژی را در شـبکه هـای هوشـمند و سـاختمان هـا بهینـه مـی کنـد و کاربـن را کاهـش مـی دهـد).
- بهینـه سـازی زنجیـره تامیـن ( هـوش مصنوعـی مدیریـت لوژسـتیک و موجـودی را بهبـود مـی بخشـد، ضایعـات را بـه حداقـل مـی رسـاند و انتشـار گازهـای گلخانـه ای حمـل و نقـل را کاهـش مـی دهـد).
- ترمیـم و نگهـداری پیـش بینـی کننـده (سیسـتم هـای نظارتـی مبتنـی بـر هـوش مصنوعـی زمـان خرابـی صنعتـی را کاهـش مـی دهـد و از اسـتفاده غیـر ضـروری از منابـع جلوگیـری مـی کنـد).
- نـوآوری سـبز (هـوش مصنوعـی توسـعه محصـولات پایـدار و مـدل هـای اقتصـاد دایـره ای را تسـهیل مـی کنـد).

ملاحظـات اخلاقـی و اجتماعـی مرتبـط بـا هـوش مصنوعـی وجـود دارد . پذیـرش هـوش مصنوعـی نگرانی‌هـای اخلاقـی از جملـه سـوگیری، جابجایـی شـغل و حریـم خصوصـی داده‌هـا را افزایـش می‌دهـد:

- تعصـب در مدل‌هـای هـوش مصنوعـی (اطمینـان از عدالـت در الگوریتم‌هـای هـوش مصنوعـی بـرای جلوگیـری از تبعیـض در اسـتخدام و تصمیم‌گیـری ضـروری اسـت).
- جابجایـی نیـروی کار (برنامـه هـای مهـارت آمـوزی و ارتقـای مهـارت بـرای کمـک بـه کارگـران بـرای انتقـال بـه بازارهـای کاری یکپارچـه بـا هـوش مصنوعی ضروری اسـت).
- حریـم خصوصـی و امنیـت داده هـا (سـازمان هـا بایـد مقـررات و اسـتانداردهای اخلاقـی را بـرای محافظـت از داده هـای شـخصی و تجارتـی رعایـت کننـد).
- عـلاوه بـر ایـن، پیامدهـای آینـده هـوش مصنوعـی بـه شـکل‌دهی به نیروی کار و شیوه‌های کسـب و کار ادامه خواهد داد، کـه نیازمنـد سیاسـت‌ها و چارچوب‌هـای انطباقـی اسـت.

## نتیجه گیری

هـوش مصنوعـی فرصـت هایـی را بـرای رشـد اقتصادی و توسـعه پایـدار ارائـه مـی دهـد. در حالـی کـه اتوماسـیون مبتنـی بـر هوش مصنوعـی و بهبـود بهـره وری از پایداری پشـتیبانی مـی کنـد، نگرانـی هـای اخلاقـی و اختـلالات نیـروی کار نیـاز بـه مدیریـت فعـال دارد. کسـب‌وکارهایی کـه هـوش مصنوعـی را مسـئولانه ادغـام می‌کننـد، از مزیت‌هـای رقابتـی بهـره خواهنـد بـرد و در عیـن حـال بـه آینـده ای پایـدار کمـک می‌کننـد. هـوش مصنوعـی بـدون شـک فرصـت هـای گسـترده ای را بـرای رشـد و تحـول کسـب و کارهـا فراهـم کـرده اسـت، امـا پذیـرش هوشـمندانه و آگاهانـه آن مسـتلزم شـناخت دقیـق مزایـا و معایـب آن اسـت. بهـره بـرداری موفقیـت آمیـز از هـوش مصنوعـی بـه ایجـاد تعـادل بیـن تکنالـوژی و ارزش هـای انسـانی، توجـه بـه مسـائل اخلاقـی و آمـوزش نیـروی انسـانی بـرای انطبـاق بـا شرایـط جدیـد بسـتگی دارد. همـکاری بیـن سیاسـتگذاران، مشـاغل و موسسـات آموزشـی بـرای آینـده ای متعـادل مبتنـی بـر هـوش مصنوعـی ضـروری اسـت.


# اعلانات داوطلبی

### داوطلبی خبرتیا

د کابـل ښـار لومـړۍ او نهمـي ناحيـو اړونـد د (۳) امـارتي ملکيتونـو د داوطلبـۍ خبرتيـا!
د ماليـې وزارت د امـارتي املاکـو لـوی رياسـت غـواړي چـي د کابـل ښـار لومـړۍ او نهمـي ناحيـو کـي (۳) امـارتي ملکيتونـه پـه جـلا جـلا ډول د داوطلبۍ لپـاره اعـلان تـه وړانـدي کـړي.
۱ - د سـینما پامیـر (۱۴) پوړیـزې ودانـۍ لومـړي پـوړ کـي یـو بـاب (۲۱) نمـبر غرفـه چـي (۸.۹۳) مـتره مربـع مسـاحت لـري او میاشـتنۍ ابتدایـي کرایـه ئـې (۱۸۹۷۰) افغانـۍ ده د دریـو کلونـو لپـاره پـه کرایـه ورکـوي.
کوردینات (جي.پي. اس) نمبر: ٦۹,۱۷۲۱۹-۳٤,٥۱۳٤۲
۲- د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱۸۵) نمبر دوکان چي (۸.۳۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۴۰۱۰) افغانۍ ده د یو کال لپاره په کرایه ورکوي
کوردینات ( جي. پي. اس) نمبر: ٦۹,۱۷۷٥٦-۳٤,٥۱۳٤۲
۳ - د کابل ښار نهمي ناحیې اړوند د کابل جلال آباد عمومي سړك ترخنګ په پشمینه بافي کي (۲۲۷۰) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۲۷۰۰) افغانۍ ده د دریو کلونو لپاره په کرایه ورکوي.
کوردینات ( جي. پي. اس) نمبر: ٦۹,۲۸۲۸-۳٤,٥۱۳٤۲
ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/کب/ ۲۷ نېټې څخه د ۱۴۰۴/حمل/۰۳) نېټې پوري د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او شرطپانه دې تر لاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۴/ حمل/ ۰۴) نېټه، له غرمې مخکې د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

### علان مزایده

ریاسـت عمومـی امـلاک امارتـی وزارت مالیـه دو جایـداد ذیـل واقـع داخـل محوطـه نسـاجی بگرامـی مربـوط ناحیـه(۱٦) شـهر کابـل را طـور جداگانـه بـه شـکل آفـر سر بسـته بـه مـدت (۱) سـال بـه مزایـده مـی سـپارد.
۱.هنگـر و سـاحه آزاد بـه مسـاحت (۱۷۸۸,٦۰) مترمربـع واقـع داخـل محوطـه نسـاجی بگرامـی بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ(۳۸۱۵۰) افغانـی.
۲.هنگـر و سـاحه آزاد بـه مسـاحت (۱۰۸۰) مترمربـع واقـع داخـل محوطـه نسـاجی بگرامـی بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ(۳٤۰۰۰) افغانـی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲٤۷۸۳٤ -۳٤,٥۰٥۱۰٥
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های متذکره را بالاتر از مبلغ فوق داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ (۲٦/ حوت/ ۱۴۰۳ الی ۳ / حمل ۱۴۰۴) به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ۱۴ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس :سینما پامیر تعمیر۱٤منزله، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.
شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷
مجلس مزایده تاریخ ۴/ حمل/ ۱۴۰۴ به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر برگزار میگردد
خواهشمندیم مطالب فوق را از طریق خویش به نشر سپرده و کتینگ اعلان را جهت اجراآت بعدی به این ریاست ارسال بدارید.

### داوطلبی خبرتیا

د مالیـې وزارت د امـارتي املاکـو لـوی ریاسـت غـواړي چـي د کابـل ښـار (۵) مـي ناحیـې اړونـد پـه کوټـه سـنګي کـي د نظیـف مارکیـټ یـو بـاب (B-۲۱) نمـبر دوکان چـي (۷۵.۳۷) مـتره مربـع مسـاحت لـري او میاشـتنۍ ابتدایـي کرایـه ئـې (۴٦۰۰۰) افغانـۍ ده د داوطلبـۍ لـه لاري د یـو کال لپـاره اعـلان تـه وړانـدي کـړي.
د جـي پـي اس کوردینـات: ٦۹,۱۱۷٤٦-۳٤,٥۱٥۲۷۲
ټـول هغـه حقیقـي او حکمـي اشـخاص چې غـواړي پورته ذکـر سـوی دوکان پـه کرایـه ونیسي کـولای سي چي خپل غوښـتنلیکونه د (۱۴۰۳/ کـب/ ۲۵ نېټـې څخـه د ۱۴۰۴/ حمـل/۱٦) نېټـې پـوري د مالیـې وزارت د امـارتي املاکـو لـوی ریاسـت تـه وسپاري او شرطپانـه دې تر لاسـه کړي.
آدرس: د سـینما پامیـر (۱۴) پوړیـزه ودانـۍ، (۵) پـوړ، د مرکـزي تړونونـو د ارزوني لـوی مدیریـت.
د داوطلبـۍ نېټـه: د ( ۱۴۰۴/ حمـل/ ۱۷) نېټـه، لـه غرمـې مخکـې د سـهار ۱۰:۰۰ بجـې.
د اړیکـو شـمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکسپانه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمنی
SHTAMANI
اوونيزه

زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی



# DM for Customs, Revenues Hits Set Annual Revenue Target, Lauds Officials

A coordination meeting between the relevant directorates of the DM for Customs and Revenues of MoF was held in the meeting hall of the said office under the chairmanship of the Deputy Minister of Customs and Revenues, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed. In this meeting, the work done by the relative directorates of the DM for Customs and Revenues was comprehensively evaluated and the good coordination in the affairs between the aforementioned directorates, and the revenues' target set in the fiscal year 1403 were reviewed, according to which the DM for Customs and Revenues has successfully achieved its annual revenues' target and the coordination in the affairs between the related directorates has been further strengthened. The Deputy Minister of



Customs and Revenues praised the progress made due to the sincere efforts of the relevant officials, and shared the necessary recommendations with the officials for the better development of the affairs. Likewise, the decisions of the previous meeting were discussed and reported on, and the appointed committees presented their performance reports. The attendees had a comprehensive discussion on these reports and made necessary decisions to further improve the pertinent matters.

# General Directorate of Customs Inaugurates Project of Building 4 Hangars Worth Over 71 mln Afs at Abu Nasr Farahi Customs as MoF Allocates Budget

The General Directorate of Customs inaugurated the project to build four hangars worth 71.8 million Afs at Abu Nasr Farahi Customs in Farah province, western Afghanistan. The opening ceremony was attended by Muslim Khaksar, Director of Support and Development of the General Directorate of Customs; Maulawi Khalil-ur-Rahman Mustafa, Director of Abu Nasr Farahi Customs, and technical staff of the project as well. The project is funded from the development budget of MoF, and its implementation will be




completed by an Afghan corporation within the next 10-month-period. Noticeably, each hangar will have a capacity to accommodate 5,000 metric tons of goods at a time, which, upon completion, will provide many facilities to traders in terms of protecting their merchandise.



## نړيواله دريڅه

# اُزبکستان په مزار شريف کې له افغانستان سره د همکارۍ د زياتولو په خاطر سوداګريز مرکز پرانيست



اُزبکۍ رسنۍ دريا – Daryo د صنعت او سوداګرۍ خوني د يوه راپور په حواله ليکي، چې اُزبکستان په مزار شريف کي يو نوی سوداګريز مرکز پرانيستی دئ، چي موخه ئې د اقتصادي همکارۍ پياوړتيا او د سوداګريزو فرصتونو پراخول دي. د بازار د مساحت په اړه وايي، دا مرکز (۲۲۰) ميتره مربع پراخ دئ، چي د درمليزو محصولاتو، برېښنايي تجهيزاتو او ساختماني موادو له پاره يوه ښه زمينه مساعدوي. ياده رسنۍ د نورو جزئياتو پر برابر زياتوي، چي د اُزبکستان د سوداګرۍ او صنايعو خوني رئيس داورون واخابوف د افغانستان د نساجي ټوکر له فابريکې څخه ليدنه وکړه، چي وايي دا د افغانستان يو له پخوانيو او لويو ټوکرانو له تصديو څخه شمېرل کېږي. دريا ليکي، دواړو خواوو موافقه وکړه، تر څو د توليد اړيکي پراخي او سوداګريزي اړيکي پياوړي کړي. د دواړو ګاونډيو ملکونو د سوداګريزي راکړه ورکړي په هکله زياتوي، چي په (جنوري/ ۲۰۲۵)ز کي د اُزبکستان او افغانستان ترمنځ سوداګريزه تبادله (۱۵۳,۷) ميليونو ډالرو ته لوړه سوه، چي دا په پروسږکال (۲۰۲٤) ز کي (٤٦,۳) ميليونه ډالر او وړم کال په (۲۰۲۳)ز کي (۵۲,۷) ميليونه ډالره کېدل. له بله اړخه بيا صادرات (۱۰٤,۲) ميليونه ډالرو ته لوړ سول، چي په (۲۰۲٤)ز کي (٤۵,۵) ميليونه ډالره او په (۲۰۲۳)ز کي (۵۲,٤) ميليونه ډالرو ته ئې ارزښت ورسېد. راپور زياتوي، چي واردات بيا په خپل وار سره په (۲۰۲۵)ز کي (٤۹,۵) ميليونه ډالرو ته ورسېدل، په (۲۰۲٤)ز کي (۰,۸) ميليونه ډالر او په (۲۰۲۳)ز کي (۰,۳) ميليونه ډالره کېدل.

## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱



## د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.
ټيليفون او وټس اپ شمېري: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمني اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چي خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.